# اې الله! په حقیقت کې ژوند یوازې د آخرت ژوند دی؛ نو انصارو او مهاجرینو ته بخښنه وکړه

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «اې الله! په حقیقت کې ژوند یوازې د آخرت ژوند دی؛ نو انصارو او مهاجرینو ته بخښنه وکړه».
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

نبي صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې حقیقي ژوند یوازې هغه ژوند دی چې په اخرت کې دی، د الله په رضا، رحمت او د هغه په جنت کې؛ ځکه د دنیا ژوند له منځه تلونکی دی، او د آخرت ژوند تلپاتې او باقي دی، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو انصارو لپاره دمغفرت، عزت او اصلاح دعا وکړه چې نبي صلی الله علیه وسلم ته یې پناه ورکړه، مرسته یې ورسره وکړه او خپلې شتمنۍ یې ورسره شریکې کړې، او هم یې هغو مهاجرینو ته دعا وکړه، چې د الله تعالی د مهربانۍ او رضایت تر لاسه کولو په موخه یې خپلې کورنۍ او شتمنۍ پرېښودې.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3773